مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هلمند آخر ۲۰۲۰/۰۳/۲۱

# د مبارکی پیغام

ټولو افغانانو ته د نوي کال او پسرلي د رارسېدو مبارکي وایم، له لوی ښتن تعالی څخه غواړو چي نوی کال د ټول ملت له پاره د سوکالۍ او سولې ډک کال شي...

د پسرلي په پار د انقلابي شاعر اکاډمیسین سلیمان «لایق» یو ښایسته شعر د افغان-جرمن پورټال ټولو محترمو او قدرمنو لیکوالانو او شاعرانو ته وړاندې کوم، په دې هیله چي د خوښې وړ مو وګرځي.

## د پسرلي ډېوې

دا اورونه په بېدیاوو کې بلېږي
که د سرو ګلو غوټۍ دي چي غوړېږي؟
د خاټولو قافلې دي را روانې
که د سرو میو پیالې ویشلې کېږي
نوي نوي قوتونه آرزوګانې
په رګو د بزګرانو کې نخښېږي
ځوانه ګوره چي فرصت درنه لاړ نه شي
زمانه انتظار نه باسي تېرېږي
د وطن فضا هوا او دښتې غرونه
د زلمو له ارمانو سره سمېږي
زمانه به پرده پورته کړي له کاره
د زاهد زړګی که چوي که ویلېږي
چي په سر کې یې هوس د مستۍ نه وي
هغه کام نه پورته کېږي، نه رغېږي
پسرلی به نوي نوي زېري راوړي
چي د فکر مسیحا پکې خوځېږي

په درناوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ